مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی

۲۰۲۶ / ۰۸ / ۰۱

# ملي ګټې

ملي ګټې هغو ضوابطو او اصولو ته ویل کیږي چې د یوه هېواد بهرنی سیاست او نړیوالې اړیکې پرې ولاړې وي.

هر هېواد د خپل ځانګړي جیوپولیتیک موقعیت او ستراتیژیکو موخو له مخې خپلې ملي ګټې تعریفوي.

د ملي ګټو تعریف، له یوې خوا، د زمان او مکان د غوښتنو تر اغېز لاندې وي. له بلې خوا، د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې هر هېواد خپلې ځانګړتیاوې لري، په پرمخ تللو او وروسته پاتې هېوادونو کې د ملي ګټو تعریف یو شان نه وي. د بېلګې په توګه، په وروسته پاتې هېوادونو کې بېسوادي او بېوزلي ملي ستونزې ګڼل کیږي. ملي ګټې ایجابوي چې دغو ستونزو ته د کورنیو امکاناتو او د مرستندویو ډونرانو سره په همکاري د حل لارې ولټول شي.

په صنعتي هېوادونو کې ملي ګټې له کثیرالملیتي جوړښتونو سره د همکارۍ یا تقابل پر بنسټ تعریفیږي. په پرمختللو هېوادونو کې د معاصرې نړۍ ستونزې، لکه د چاپېریال ساتنه، ډلهییز مهاجرتونه او د معلوماتي ټکنالوژۍ پرمختګ په برخه کي همکارۍ یا سیالې د ملي ګټو پر تعریف او ځرنګوالي اغېز لري.

له یوې پراخې لیدلورې څخه، موږ د نړیوالتوب ( ګلوبالیزېشن) په عصر کې ژوند کوو. د نړۍ په کچه د اقتصادي، سوداګریزو او فرهنګي راکړو ورکړو پراختیا، او د هېوادونو متقابلې اړتیاوې، د دې لامل شوې دي چې هېڅ هېواد ونه شي کولای خپلې ملي ګټې د نورو هېوادونو له ملي ګټو په تقابل تعریف او توجیه کړي.

د ملي ګټو تعریف د جګړې او سولې په شرایطو کې یو له بل سره توپیر لري. خو د ملي ګټو په تعریف کې ځینې اصول، لکه ملي واکمني، خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي وحدت، خپل ثابت او نه بدلېدونکی ارزښت ساتي.

د هغو ثابتو اصولو ترڅنګ چې یادونه یې وشوه د جنګ ځپلي افغانستان ملي ګټې باید پر لاندې ضوابطو او ارزښتونو ولاړې وي:

- د طالبانو د سرپرست واکمني څخه د نجونو د ښونځیو د بندیز د لرې کولو او اساسی قانون په جوړولو په تمه مشروط ملاتړ.

- د اساسي قانون په بنسټ باندی د یوې پیاوړې ملي مرکزي واکمنۍ له جوړېدو څخه ننګه.

- د جګړه مارو په ولاندې چې د بهرنیو استخباراتو په لمسونه امنیت ګډوډوی مقابله. - ملي سمبولونو، لکه بیرغ، د افغانستان نوم ( د ملي هویت د تجسم د چوکاټ په توګه )، ملي تاریخ او تاریخي - ملي شخصیتونو ته درناوی.

- په فرهنګی ساحه کی د ملي ترمنولوژی د کارولو څخه دفاع.

- په سیاسي ډګر کې د افغانستان د نوم او ملی هویت د دشمنانو سره مقابله .

- د قومي او مذهبي لږکیو حقونو ته درناوی، تر څو چې هغوی د مداخلهګرو هېوادونو له خوا د افغانستان پر ضد ونه کارول شي.

- له سکتاریزم او فدرالیزم سره چی د افغانستان د توته کیدو پیلامه ده، مبارزه.

- د ډیورند د داعیې ملاتړ او د کرښې په اوږدو کې د اغزن سیم له غځولو سره مخالفت.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ پښتون ژغورني غورځنګ، تي،تي، پي او د بلوچستان او کشمير آزادی غوښتونکو  له داعيي څخه ملاتړ.

ـ له بهرنيو  هېوادونو سره د نړيوالو قوانينو پر بنسټ، د يوه متساوي‌الحقوق هېواد په توګه د چلند  ننګه.

ـ له  سيمي هيوادونو، امريکا، ناټو او اروپايي اتحاديې سره د قانوني تعامل ترڅنګ، په سيمه کې ګډو ستراتيژيکو او جيوپوليتيکو ګټو ته پام.

هغه ضوابط چې د افغانستان په اړه  پورته ورته اشاره وشوه، تر ډېره د جګړې او بيړنيو حالاتو له شرايطو سره تړاو لري. د سولې له ټينګېدو وروسته، د ملي ګټو په تعريف کې بايد نوو واقعيتونو او بدلو شويو شرايطو ته هم پام واړول شي.

« پايان »



آرشيف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ